PRESS RELEASE

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

EUPOL Afghanistan
European Union Police Mission in Afghanistan

اروپايي ټولنه د افغانستان دولت څخه غواړي ترڅو د بڼځو پر وړاندې تاوتريخوالی له منځه يوسي

*د نومبر **25** مه، د بڼځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د نړيوالي ورځې په مناسبت*
په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ګډه اعلاميه

کابل- د 2015 کال د نومبر 24

د بڼځو پر وړاندې د تاوتريخوالي او تبعيض له منځه وړل د اروپايي ټولنې د بشري حقونو د پاليسۍ يو اړين او اساسي موخه ګڼل کيږي.

د بڼځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د نړيوالي ورځې په مناسبت اروپايي ټولنه په افغانستان کې د بڼځو د حقونو د نقض د دوام په اړه خپله اندېښنه څرګندوي. په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي، د اروپايي ټولنې پلاوي او په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پوليسو ماموريت (EUPOL-Afghanistan) د بڼځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي په له منځه وړلو کې ژمن دي.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړی استازی فرانز مايکل ميلبن وايي: " تېره مياشت يوځل بيا يوه ځوانه بڼځه سنګسار او ووژل شوه. دغه کار په هيڅ توګه د منلو وړ نه دی. افغان دولت بايد ډاډ ورکړي چې د دغه شان جرمونو ترسره کونکي تر پوښتنې لاندې راشي. زه د افغان دولت هڅوم ترڅو د بڼځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو په موخه خپلې هڅې ګړندۍ کړي."

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د پوليسو د ماموريت مشره پيا شتيرنوال وايي: "د افغانستان دولت لخوا د بڼځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د قانون جدي نيول اړين دی. د افغانستان قضايي نظام بايد خپل د مکلفيتونو پر بنسټ کار وکړي چې دغو ستونزو ته ځواب ورکول شي او همدارنګه د جرمونو مرتکبينو ته سزا ورکړي تر څو د قربانيانو په اړه عدالت تامين شي. "

د لا ډېر معلومات لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

د اروپايي ټولنې د پوليسو د ماموريت د رسنيو او عامه اړيکو مسوول
عزيز بسام
ټليفوني شمېره: 11 77 69 790 (0) 93+
بريښنالیک:aziz.basam@eupol-afg.eu